# د ثور انقلاب

په دغه برخه کي به د هغو کسانو په اړه ليکنه و سي چي ټول د کيڼ سياست (مارکسيزم او لېنينيزم) يا د پخواني شوروي اتحاد د سياست پلويان ول.

دغه سياست د نور محمد تره کي له خوا هغه وخت لا په پټه را پيل سوی وو کوم چي په افغانستان کي چا د کيڼ سياست د پر مخوړلو او فعاليت کولو اجازه نه لرله. په ۱۳۴۳ل کال کي په هيواد کي د نوي اساسي قانون د منځته را تلو سره سم سياسي ګوندو د فعاليتو کولو اجازه تر لاسه کړه. سمدستي سر ببره پر دې چي د ګوندو قانون لا نه وو ليکل سوی نور محمد تره کي، حفيظ الله امين، ببرک کارمل او د دوي ملګرو د خلق د ديموکراتيک ګوند په نامه خپل ګوند را منځته کړ. دوی لومړی ورځپاڼه د (خلق) په نامه نشر کړه.

ډېره موده لا نه وه تېره سوې چي د نورمحمد تره کي او ببرک کارمل تر منځ البته د قدرت پر وېش مخالفت را منځته سو. هغه وو چي ببرک کارمل او ملګرو ئې د خلق د ديموکراتيک ګوند تر څنګ د (پرچم) په نامه ځانته يو ګوند را منځته کړ.

له دغه ځايه وو چي خلق او پرچم سربېره پر دې چي مرام ئې يو وو او د يوه شوروي پلويان ول د دوو دښمنو ګوندونو په توګه په سياسي فعاليت پيل و کړ.

دغه دوه دښمن ګوندونه د داود خان د جمهوريت په وروستيو ورځو کي له داود خان څخه د قدرت اخيستلو لپاره بيرته د خلق د ديموکراتيک ګوند تر نامه لاندي سره يو ځای سول.

په ۱۳۵۷ ل کال کي ئې د يوې کودتا له لاري د داود خان جمهوريت رنګ او د خلق ديموکراتيک ګوند د نور محمد تره کي تر مشری لاندي د هيواد چاري په لاس کي واخيستلې.

# نور محمد ترکي

۱۳۵۷ ـ ۱۳۵۸ هـ ل ۱۹۷۸ ـ ۱۹۷۹م



نور محمد

ترکي

نور محمد ترکی د ۱۹۱۳م کال د جولای پر ۱۵ نېټه زېږېدلی دئ. دی د وینبسو ځلمیانو د ډلي غړی وو.

دی له ډېر وخت څخه د انقلابي فکر څښتن وو. د هغه وخت د حکومت په پټه ئې د خلق د دیموکراتیک ګوند (حزب) اساس ایښی وو، ګوند ته ئې غړي را بلل او ګوندي غونډې ئې کولې.

په ۱۳۴۳ هـ ل کال د اعلیحضرت محمد ظاهر خان په وخت کي د لومړي ځل لپاره دیموکراسي اعلان سوه او سیاسي ګوندونو په ازادي سره و کولای سوه چي فعالیت وکړي. د ۱۳۴۳ هـ ل کال د جدي پر ۱۱ نېټه د خلق دیموکراتیک ګوند د نور محمد تره کي په مشري په رسمي توګه په فعالیت پیل و کړ. د ۱۳۴۵ کال د حمل پر ۲۲ نېټه د خلق په نامه یو د اخبار په چاپ پیل و کړ. د دغه ګوند دوه نور لوړ پوړي غړي حفیظ الله امین او ببرک کارمل ول.

تر څه فعالیت وروسته د ګوند د مشرانو تر منځ مخالفت پیدا سو. ببرک کارمل د خلق له دیمو کراتیک ګوند څخه جلا سو او د پرچم په نوم ئې یوبل ګوند چي مرام ئې هغه د خلق د دیموکراتیک ګوند مرام وو، پیل کړ نېټه (د ثور ۱۴ کال ۱۳۴۶). دا دواړه ګوندونه د هغه وخت شوروي اتحاد ته وفادار ول او د هغو له خوا مرسته ور سره کېده.

د سردار محمد داود د جمهوریت په وخت کي د سیاسي ګوندونو فعالیتونه منع سول. هغه څه موده وروسته خپل ګوند د ملي غورځنګ په نامه اعلان کړ.

تر دي وروسته په پټه د خلق او پرچم ګوندونه بیا سره یو ځای سول، کال ۱۳۵۶ ل کال د سرطان ۱۲ بیا ئې په فعالیت پیل و کړ. داود خان چي دغه کار نه سو قبلولای نو ئې نورمحمد ترکی، ببرک کارمل، حفیظ الله امین او د خلق او پرچم د ګوندونو یو شمېر نور غړي بندیان کړل. هغه وو چي د ۱۳۵۷ هـ ل کال د ثور پر ۷ نېټه د اسلم وطنجار (چي یو عسکري سړی وو) له خوا یوه کودتا پیل سوه. داود خان ئې په خپل کور کي محاصره کړ

داود خان لا محاصره وو چي نور محمد ترکی او ملګري ئې له بند څخه را خلاص سول .
حفیظ الله امین د کابل راډیو له لاري د انقلابي شورا بیانیه پیل کړه ، داود خان او د ده د کورنۍ غړي ئې شهیدان کړل ، نور محمد ترکی د افغانستان د انقلابي شورا د ریس په توګه و ټاکل سو ، چي له دې ځاي څخه هیواد ته د بد بختۍ دروازه خلاصه سوه .

نور محمد ترکي د هغه وخت د شوروي اتحاد په مرسته په ډیرو ژر تغییراتو لاس پوري کړ . ډېر ژر ئې د هیواد پخوانی بیرغ له منځه یووړ او پر ځای ئې د خلق سور بیرغ منځ ته راووړ . دا کار د افغانستان د خلکو د ډیري نا راضۍ سبب و ګرځېد .



ډېر ژر د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ د حکومت د چوکیو پر سر مخالفت پیل سو . د دې کار په نتیجه کي ببرک کارمل پراګ (چکوسلواکیا) ته د سفیر په توګه و لېږل سو چي په دغه کار د خلق او پرچم تر منځ ډېر مخالفت پیل سو . دغه مخالفت دومره شدید وو لکه د خلقیانو او مجاهدینو تر منځ چي مخالفت وو .

د نور محمد ترکي د حکومت د ناکامۍ سببونه ډېر وه خو یو څو ئې په لاندي ډول دي :
١ـ د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ بیا مخالفت .
٢ـ په هیوواد کي د خانانو ، ملایانو ، د نورو ګوندونو د غړو او نورو خلکو بندي کول ، وژل او د شوروي اتحاد پلوي کول .
٣ـ د ده په نظر د ډېر ژر اصلاحي فرمانونه یو په بل پسې را ایستل.
٤ـ د خلق د ګوند د غړو پر خپل سر کارونه کول .
٥ـ د سرمایه دارو هیوادونو له خوا د خلکو لمسول د دوی په مخالفت ، دا ځکه چي هغوی
د شوروي اتحاد د مختنه راتلو په سبب په ببره (وېره) کي وه .
٦ـ د ترکي او امین تر منځ مخالفت .

په دغه وخت کي د ترکي او حفیظ الله امین تر منځ مخالفت تر دې اندازې پوري و رسېد چي د یو او بل د وژلو تصمیم ئې سره و نیو . هغه وو چي حفیظ الله امین بریالی سو او ترکی ئې له منځه یووړ او په خپله د انقلابي شورا ریس سو .

پوښتني :

۱ ـ نور محمد ترکي د کومي ډلي غړی وو او بيا ئي د کوم حزب اساس کښېښود ؟
۲ ـ د خلق ديموکراتيک ګوند څه وخت په ښکاره توګه پيل کړ ؟
۳ ـ څه فکر کوئ چي د خلق د ګوند د مشرانو تر منځ ولي مخالفت منځ ته را غی ؟
۴ ـ نور محمد ترکي څرنګه د داود خان په مخ کي و درېد او هغه ئي له منځه يوور ؟
۵ ـ د ګوند د مشرانو تر منځ ولي مخالفت منځ ته راغی او نتيجه ئي څه وه ؟
۶ ـ د نور محمد ترکي د حکومت د نا کامۍ سبب څه وو ؟
۷ ـ نور محمد ترکي د چا له خوا و وژل سو او ولي ؟

# حفيظ الله امين


حفيظ الله امين

حفيظ الله امين د ۱۹۲۹ م کال د اګست پر لومړۍ نېټه د پغمان ولسوالۍ د قاضي خېلو په کلي کي نړۍ ته سترګي خلاصي کړي دي. وروسته تر دي چي د کابل پوهنتون د ساينس د پوهنځي د رياضي او فزيک په څانګه کي ئي تحصيل وکړ په يوه لېسه کي ئي د ښوونکي په توګه په کار پيل وکړ. په ۱۹۵۷ م کال کي ئي د امريکي متحده ايالاتو ته د لوړو زده کړو لپاره سفر وکړ. د تحصيل تر پای ته رسولو وروسته د کابل د ښوونکو د روزلو په موسسه (دارالمعلمين) کي د ښوونکي په توګه په کار بوخت سو. په ۱۹۶۲م کال کي ئي يو ځل بيا د لوړو زده کړو لپاره امريکا ته سفر وکړ. دا ځلي د دي پر ځای چي زده کړي وکړي په سياست لګيا سو.

کله چي هيواد ته را ستون سو د خلق د ديموکراتيک ګوند غړی سو. نوموړی د نور محمد ترکي تر مړيني وروسته د افغانستان د دريېم اولسمشر (جمهور ريس) او د خلق د ديموکراتيک ګوند مشر سو.

داسي ويل کيږي چي د ترکي د قدرت ته رسېدو په لومړي وخت کي د حفيظ الله امين او ببرک کارمل تر منځ مخالفت پيدا سو . هغه دا چي کارمل او يو شمېر نورو حفيظ الله امين د امريکا پلوی او د (CIA) د جاسوس په نامه باله . خو د حفيظ الله امين د حکومت په ۱۰۴ ورځنۍ موده کي پرته له يوه ناکامه پوځي بغاوت څخه بل کوم داسي سرغړونه او د ده په وړاندي ولاړېدنه نه ده ترسترګو سوې .

د ۱۹۷۹م کال د ډيسمبر پر ۲۷ نېټه حفيظ الله امين د شوروي پوځونو لخوا و وژل سو او پر ځای ئي ببرک کارمل د افغانستان د انقلابي شورا د ريس په توګه پر چوکۍ کښېناوه . د امين تر مړيني وروسته بيا خلق او پرچم دواړه د خلق د ديموکراتيک ګوند په نامه سره يو ځای سول . دا ځکه چي د پرچم د ګوند غړي ډېر کم ول .

**پوښتني :**

۱ ـ حفيظ الله امين د مخه تر دي چي قدرت ته و رسيږي څه تحصيل او کارونه ئي کړي وه ؟
۲ ـ حفيظ الله امين چي قدرت ته و رسېدی څه کارونه ئي و کړل ؟
۳ ـ د حفيظ الله امين او ببرک کارمل تر منځ مخالفت به پر څه وو ؟
۴ ـ ولي حفيظ الله امين نور محمد ترکي له منځه يووړ ؟
۵ ـ ولي شورويانو حفيظ الله امين له منځه يووړ ؟

# ببرک کارمل



ببرک کارمل

ببرک کارمل د ۱۹۲۹ م کال د جنوري پر ۶ نېټه په يوه ثروتمنده کورنۍ کي زېږېدلی وو پلار ئي عسکري جنرال وو .

لوړي زده کړي ئي د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کي کړي وي . په پوهنتون کي د زد کړو په وخت کي د مارکسيستي فلسفي سره د پلوي کولو نظر ور سره پيدا سوی وو . د ۱۹۶۵م کال د جنوري پر لومړۍ نېټه د خلک د ديموکراتيک ګوند د لوړو غړو له جملې څخه و شمېرل سو .

په ۱۹۶۵ م کال کې د ملي شورا غړی سو . په ۱۹۶۷ م کال کې د خلق د ګوند څخه جلا سو او د پرچم په نامه ئې یو ګوند منځ ته راووړ چې مرام ئې هغه د خلق د ګوند مرام او د هغه یوه شوروي هیواد پلوي وه .

کله چې داود خان د افغانستان اولسمشر سو نو د پرچم د ګوند یو زیات شمېر غړي د هغه په حکومت کې مقرر سول . خو پخپله ببرک کارمل کوم مقام تر لاسه نه کړ . د محمد هاشم میوند وال تر وژل کېدو وروسته د پرچم غړي یو یو د داود خان له حکومت څخه لیري کړه سول .



د نور محمد ترکي د حکومت په لومړي سر کې د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ مخالفت پیدا سو . ترکي و کولای سوای چې د پرچم د ګوند لوړ پوړي غړي له هیواد څخه بهر و لېږي . ببرک کارمل ئې په پراګ (چکوسلواکیه) کې سفیر مقرر کړ ، ځیني ئې بندیان کړل او یا ئې و وژل . ببرک کارمل د پراګ سفارت پرېښود او ماسکو ته ولاړ. هلته د حفیظ الله امین تر وژل کېدو پوري پاته سو . د ۱۹۷۹ م کال د ډیسمبر په وروستیو ورځو کې سربېره پر دې چې امین پر قدرت وو د شوروي اتحاد عسکري الوتکي د کابل پر هوایي ډګر ټانکونه او نور جنګي سامانونه را کښته کوي . څو هغه وو چې د ډیسمبر پر ۲۷ نېټه د شوروي اتحاد عسکر افغانستان ته را ننوتل . مخامخ ئې د امین پر کور چې د دارالامان په ماڼۍ کې وو اوربل و کړ او حفیظ الله امین ئې و واژه .

ببرک کارمل چې په خپله په افغانستان کې نه وو له تاشکند څخه ئې د راډیو له لاري بیانیه ور کړه . ځان ئې د افغانستان د انقلابي شورا د ریس په توګه معرفي کړ . کله چې ببرک کارمل هیواد ته راغی نو لومړی ئې کوښښ و کړ چې بیرغ ته تغییر ور کړي . دا چې په افغانستان کې د شورویانو مستقیمه پښه ایښودنه د افغان اولس د غوښتنو په خلاف وه نو سمدستي جهاد پیل سو او بیا نو نه شورویانو او نه خلقیانو او پرچمیانو د ارامي ګوله خولې ته پورته کړه .

پر افغان اولس باندي زیات ظلمونه و سوه . ډېر خلک څوک و وژل سول او څوک له هیواد څخه وتلو ته اړ سول . پسله ډېرو جنګونو او قربانیو ور کولو څخه شوروي اتحاد دې ته مجبور سو چې د خلقي حکومت چاري د خلکو له غوښتني سره برابري کړي . ببرک کارمل

د ملي شورا او اساسي قانون او ازادو انتخاباتو خبري پيل کړلې. خو خلکو نه شورويان او نه ببرک کارمل مانه. څو په پای کي شورويانو هڅه و کړه چي افغانان پدي و غولوي چي يو پښتون اولسمشر ورته و ټاکي. هغه وو چي د ۱۹۸۶م کال د مى په مياشت کي ئې د پرچم د ګوند يو غړی ډاکټر نجيب الله منځ ته راووست او ببرک کارمل ئې د ناروغۍ په پلمه ماسکو ته واستاوه.

ببرک کارمل د ۱۹۹۶ م کال د ډيسمبر پر ۳ نېټه په ماسکو کي د اينې د سرطان په ناروغي مړ سو . د ده مړی د شوروي اتحاد په يوه عسکري الوتکه کي مزار شريف ته د ښخېدو لپاره په داسي وخت کي راووړ سو چي په هيواد کي د طالبانو د منځ ته راتلو لومړي وختونه ول.

پوښتني:

۱ ـ ببرک کارمل قدت ته تر رسېدو تر مخه کوم کارونه کړي وه ؟
۲ ـ کله چي د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ مخالفت پيدا سو نتيجه ئې څه وه ؟
۳ ـ ببرک کارمل څرنګه او د کومه ځايه د خپل رياست جمهوري اعلان و کړ او ولي ؟
۴ ـ د ببرک کارمل د ناکامۍ دلايل څه ول ؟

# ډاکتر نجیب الله



ډاکتر نجیب الله

نجیب الله د اختر محمد زوی او د ۱۹۴۶م کال د اګست پر ۶ چي د ۱۳۲۵ ل کال د زمري ۱۵ نېټه د کابل د ښار په مرادخانیو کي زېږېدلی وو . په ۱۳۳۱ل کال کي د کابل د ده افغانان په لومړني ښوونځي کي په لوست بوخت سو . په ۱۳۴۲ ل کال کي د حبیبیې له لېسې څخه فارغ سو . په ۱۳۴۴ ل کال کي ئې د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کي په لوړو زده کړو پیل و کړ. د پوهنتون په دوره کي په سیاست لګیا سو . د ۱۳۴۴ کال د جدي په میاشت کي د خلق دیموکراتیک ګوند غړی سو . پښتو ، فارسي ، اردو او انګلیسي ژبي ئې زده وې .

په ۱۳۴۸ کال کي د سیاسي فعالیتو په نسبت درې میاشتي بندي سو.  یو ځل بیا په ۱۳۴۹ کال کي ۹ میاشتي بندي سو . د بندي کېدو او سیاسي فعالیتونو په نسبت درې کاله له پوهنتون څخه پاته سو .

په ۱۳۵۴ ل کال کي له پوهنتون څخه فارغ سو . په ۱۳۵۶ کال کي د خلق د دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې غړی سو . د ۱۳۵۷ ل کال د سرطان په میاشت کي په ایران کي د افغانستان د سفیر په توګه و ټاکل سو . په ۱۳۵۸ ل کال کي له هغې دندي څخه ایسته کړل سو . له هغه ځایه یوګوسلاویې ته ولاړ او د جدي د میاشتي پر ۲۱ نېټه بیرته هیواد ته راغی او د خاد ریس سو .

په ۱۳۶۵ ل کال کي د ګوند د عمومي منشي په توګه و ټاکل سو . په دغه وخت کي په هیواد کي جنګونو ډېر شدت لاره . د دغه کال د جدي پر۱۳ غونډه و سوه چي د خلقي نظام له مخالفینو سره دي ملي روغه جوړه دي و سي، د



ټولو ګوندونو په ګډه دي یو حکومت جوړ سي او جنګ دي نه وي. د دغه کال د جدي د میاشتي پر ۲۵ نېټه نجیب الله یو اړخیز اوربند اعلان کړ. د دلوي پر ۱ نېټه ئې سیاسي بندیان ازاد کړل او بیرغ ته ئې تغییر ورکړ. څو میاشتي وروسته ئې لویه جرګه را و بلله او د اساسي قانون پر مسوده ئې کار پیل کړ.

د ۱۳۶۷ل کال د حمل پر ۲۴ نېټه ئي د ژينيوا قرارداد لاسليک کړ. د ۱۳۶۷ل کال د دلوي پر ۲۷ نېټه د شوروي اتحاد عسکر له هيواد څخه و وتل.

ډاکټر نجيب په ۱۳۷۰ل کال کي د حوت د مياشتي پر۲۷ نېټه د ملګرو ملتونو د استازي د غوښتني او ګرنټي سره سم يوه بيانيه خپره کړه. هغه دا چي قدرت به يوه جلا وطنه حکومت ته کوم چي د هيواد څخه بهر په پيښور کي ترتيب سوی وو پرېږدي.

کله چي ډاکټر نجيب الله قدرت مجاهدينو ته پرېښود. هغه وو چي لومړی صبغت الله مجددي د دوو مياشتو لپاره د هيواد واکي په لاس کي وا خيستلي. ډاکټر نجيب و نه کولای سوای چي له هيواد څخه و وزي. دی د ملګرو ملتونو په دفتر کي و ساتل سو. کله چي په ۱۳۷۵ لمريځ کال طالبانو قدرت واخيست هغه وو چي د ميزان پر ۵ نېټه د طالبانو له خوا په دار و ځړول سو.

**تـــمرين:**

۱ـ د شورويانو هدف څه وو چي ببرک کارمل ئي له منځه يووړ او پر ځای ئي ډاکټر نجيب راووست؟
۲ـ ډاکتر نجيب څه وخت په سياسي فعاليتو بوخت سو؟
۳ـ د مخه تر دي چي ډاکټر نجيب د افغانستان د انقلابي شورا مشر سي کوم کارونه ئي کړي وه؟
۴ـ د ډاکټر نجيب الله مقصد څه وو چي بيرغ ته ئي تغيير ور کړ؟
۵ـ د ډاکټر نجيب د دوري مهم کارونه څه شی وه؟
۶ـ ولي ډاکټر نجيب قدرت مجاهدينو ته پرېښود؟
۷ـ کله چي ملګرو ملتو ډاکټر نجيب ته د ده او د ده د کورنۍ او ملګرو د سر د امان ګرنټي ور کړي وه نو ولي دی او د ده ورور په دار و ځړول سول؟

ليکونکی: عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
0046709384755